AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

شیر محمد اميني ستانکزی ۲۰۱۸/۰۸/۲۲

# د لوګر د کانکور پایلې او د ښوونځیو پر وړاندې خنډونه

په لوګر ولایت کې د ۱۳۹۶ کال د دولسمو ټولګیو زده کوونکو څخه د کانکور آزموینه د تیر کال په څیر دسرړني کال په لومړیو ورځو کې واخیستل شوه، څنګه چې تمه کیده، د پایلو د اعلان سره سم د لوګر ولایت زده کوونکي یوڅه ښه ځلیدلي دي.

د کانکور آزموینې ملي پروسه چې د افغانستان په ټولو ولایاتونو کې واخیستل شوه، په دې آزموینې کې د بایو متریک سیستم تطبیق شوی ؤ، چې د اړوند مسؤلینو په وینا یاده آزموینه د امنیتي له پلوه خوندي او د هر ډول غیر قانوني اشخاصو د ګډون، تګ او راتګ مخه نیول شوي وه.

د لوړو زده کړو وزارت د چارواکو په خبره؛ د بایومتریک سیستم د کانکور په آزموینه کې نوې او د هر ډول فساد د مخنیوي لپاره سیستم دی، چې د کانکور آزموینه په رڼه توګه او د کانکور ګډونوال نشي کولای، چې د یو زده کوونکي پرځای بل کس آزموینه ورکړي. د ټولو زده کوونکو حقوق پرځای او د حق تلفۍ مخه هم نیول کیږي، یانې د درغلیو لپاره یو لوی بندیز دی.

له دې پخوا په لرو پرتو سیموکې ډیرې داسې ګنګوسې د هیوادوالو ترغوږ رسیدې، چې ګواکې د کانکور په آزموینه کې درغلی او د واسطې کولو چانس ډیر دی، چې د بایومتریک سیستم د رامنځنته کیدو سره؛ د ډیرو زده کوونکو او د هیوادوالو دغه شکونه لرې کړې دي.

پخواستونزه په دې ځای کې وه، چې لوړو زده کړو وزارت بنسټیز پلان د آزمویني اخیستو لپاره نه درلود. خو دا دوه کاله کیږي، چې دغه لړۍ په ټول هیواد کې پیل او د کانکور په ملي پروسه کې پلې شو . خو اوسمهال زده کوونکي او خلک په دې خوښ بریښي، چې آزموینه په رڼه توګه واخیستل شوه اوهم ډیرې زده کوونکي د خپلو پایلو څخه خوښ او راضي ښکاره کیدل.

د۱۳۹۷ کال په کانکور کې دلوګر ولایت (۳۱۷۲) تنه زده کوونکو ګډون کړې، ؤ، چې له دې ډلې (۲۸۶) تنه یې نجونې وې. چې د پایلو له اعلان سره لوګري زده کوونکي یو څه په کانکور آزموینه کې ځلیدلي دي. ولې بیاهم د کانکور د ګډونوالو پایلې په دې بسنه نکوې، بلکې له دې لاښه ځلیدلي وای، ځکه لوګر د باب العلم دروازه ده، چې باید په کانکور کې لومړۍ یا دویم ځای خپل کړی وای.

خو بیاهم له نورو کلونو ښه دي، ځکه که ولیدل شي، تیرکال زده کوونکي د ډیرو خپلسري رخصتیانو له امله ښوونځیو ته نه ورتلل او په ناامنو سیموکې ښوونځي دیو لړ امنیتي پلوه له ګواښونو سره مخول. لکه څنګه چې سږکال موږ هم د دې شاهدان ؤ، چې په لوګر ولایت کې د ښوونځیو تړل کیدل او په مرکز پل علم کې دو ښوونځیو ته اور ورته کول دا هغه څه دي، چې د زده کوونکو دزده کړو مخنیوی اود زده کوونکو پر ذهنونو منفي اغیزې ښیندي.
دټولو هیوادوالو او په ځانګړې ډول دلوګر ولسونو یوازځینی غوښتنه د دولت له وسلوالو مخالفینو څخه داده، چې د ښوونیزو مرکزونو پرووړاندې خنډ رامنځته نکړي او ښوونځي نباید په سیاسي ډګرونو وپوښل شي.
همدا ښوونځي دي، چې دزده کړو او پوهې د ترلاسه کولولپاره که هغه د هرې لوري وي؛ د دوی زامن او لوڼې زده کړې پکې کوي، چې د ښوونځیو تړل او یا سوزول دا د دولت په تاوان نه؛ بلکې دولسونو او دټولنې دتباهۍ سبب کیدای شي.
په پای کې ټولو زده کوونکو ته دویلو ده، چې خپل وخت بې ځایه او دبې ځایه ګرزیدو مخنیوی او زده کړو ته ډیره پاملرنه وکړي او د دولسم ټولګۍ زده کوونکي باید راتلونکي کانکور آزموینې ته پوره چمتوالی ونیسي، څو لوګر د هغو ولایتونو په لوړ کتارکې شتون ولري، لکه څنګه چې دلوګر نوم دباب العلم په ویاړ یادیږي.
پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ